**د فغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زدکړو وزارت**

**وردگ پوهنتون**

# د کمپیوټر ساینس پوهنځي تاریخچه او اوسنی حالت

وردگ پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځی په ۱۴۰۰ هـ ل کال کې چې د ۲۰۲۱ میلادی کال سره سمون خوري چه د دوو څانگو( انجینري شبکې او معلوماتي سیستمونو) په چوکاټ کې په لمړي ځل د پنځو تنو استادانو په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ.

اوس مهال د کمپیوټر ساینس پوهنځی ټول تشکیل (۱۷) کسانو ته رسیږي چې له دې جملې (۹) تنه کادري غړي، د پوهنځی رئیس ،تکنش لابرانت مدیر، تکنشن لابرانت، درى تنه خداماتي کارمندان او د پاتې (۲) تنو څخه یو یې د پوهنځی تدریسي عمومي مدیر او بل یې د دیپارتمنتونو اجرایه مدیر دی. اوسمهال ددې پوهنځي په پورته ذکر شویو (۲) څانگو کې (۳۷۷) تنه زدکړیالان په زده کړو بوخت دي. د کمپیوټر ساینس پوهنځی د کیفیت د ښه والي لپاره تازه متې رانغښتې دي. یادې پوهنځي په خپل اداري چوکاټ کې څوارلس داسې کمېټې جوړې کړې دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي لپاره په دوامداره توگه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له :۱- د کیفیت لوړاوي فرعي کمېټه، ۲- د ستراتیژیک پلان کمېټه، ۳- نصاب کمیټه، ۴- الکترونیکي زده کړو کمېټه، ۵- د نظم او دیسپلین کمېټه ٦- فرهنگې چارو او نشراتو کمیټه، ۸-د پوهنځی علمي شورا کمیته ۹-د څېړنو کمیټه ۱۰-د سپورت کمیټه او ۱۱- مالي کمیټه. ۱۲- د ازموینو کمیټه، ۱۳ـ د دعوت او ارشاد کمیټه، ۱۴- د زدکړالانو کمیټه، دا کمېټې خپل کارونه په خپل وخت ترسره کوي.